**مایکل سیلستورفر**
**خلکو ته**

د غاټول(لاله، ګلابو) ګلانو کرونده(مزرعه). د ځنګاکو یو مخکیني(قدیمی) کارخونې په منځ کې، ۱۰۰۰ له دې لاله ګلونو څخه په دقت سره په پلاستیکي بوټلونو کې ترتیب شوي دي. هره ورځ ګلونه بدلوي، داسې چې د ګل پاڼې هیڅکله نه مړاوې کېږي او ورسره په یو وخت غنچې د خلاصېدو او غوړېدو په تمه دي. یو ځنډ(تعلیق) حالت منځ ته راځي، یو واټن د مړاوې کېدو او غوړېدو ترمنځ او د کېدو او شتون تر منځ. د نبات وده( رشد) موږ ته بلنه راکوي چې د بدلون بهیر ته نظر وکړو. او په حقیقت کې د نبات وده په سمبولیکه توګه د بدلون یا تحول ارزښت ښیي. څه اړیکه د نبات د ساقې، ګل او د هغه د اغزو سره او همدا رنګه د ژوندون او زموږ د ټولنو سره شتون لري؟

خلکو ته، ټولنو ته یو څو اړخیز اوډنه ( ترتیب) او ټولنو ته یو ژور نظر یا کتنه ده. مګر تر ټولو مهم دا یو اشاره ده: د زړه له خوا هغو خلکو ته یو ډالی دی چې د بدلون دوران تیروي. هغوی ته پاملرنه کول، د هغوی د زړورتیا څخه ستاینه او د ګلانو په ژبه د هغوی هڅول د مایکل سیلستورفر ددې ترتیب یوه مهمه برخه ده چې د خپل نسل، مهم آلماني مجسمه جوړوونکو څخه شمېرل کېږي. دا هنرمند په خپل آثارو کې تخیل ځواک، د اشیاوو مادي او موقتي اړخونه او د هغوی اړیکې څرګندوي. هغه دا ځانګړتیاوې د عبور مرحلې په اړه ژوندې مجسمو ته بدل کړي، یا په نورو تعبیرونو، نه یوازې د وجود (هستي) ښې، بلکې د هغه خپل شاعرانه ژوند هم کولای شو د هغه په آثارو کې ووینو.

سیلستورفر د (خلکو ته) په جوړښت یا ترتیب کې، آلماني هنرمند یوزف بویس ته یو ظریف نغوته (اشاره) کوي، چې د (ټولنیز مجسمه) په اړه خپلې نظریې ته د ټولنیز بدلونونو په مرکز کې ځای ورکوي. بویس د ۱۰۰ ورځني نندارتون په ټول مدت کې په کاسل کې په داکیومنتا ۵ کې یو مشارکتي نندارتون یې ننداري ته کېښود. هغه په دې ننداړتون کې ننداړچیانو ته د تخلیقي عمل له لارې د ټولنې د بدلون په اړه ځینې نظریې وړاندې کړ. د کاسل د دفتر پر میز باندې چې دغه ننداره(نمایش) سر ته ورسېد، یو ښیښه یې ګلدان د یو لاله ګل سره و، چې هره ورځ بدلېدل. وروسته دغه چاپېریال د ډېرې ورژنونو (نسخو) سره ورته یو هنري اثر ته بدل شو.

سیلستورفر دا نظر اخلي او هغه لا نور پراخوي. هغه د دوامداره پیلونو امکان چې د ننداړچي سره په تعامل کې د ټولنیز انرژي تر بریده (حد) پورې وده کوي، څو برابروي. ولې چې د هر لاله ګل پسې یوه وده شتون لري چې نشو کولای هغه ودروو. هغه وده چې مخکې تر لاسه شوی یا تر اوسه پورې نه وي فعاله شوی او دغه وده (رشد) د انسان په ذات کې هم شتون لري. او دا نظر ده چې یا واضح او یا هم نا روښان، هر ژوند لیک (بیوګرافي) بدلونونه را منځ ته کوي. د ایراني شاعر علی عبداللهی او د هغه شع (تا انتها) په تعبیر د ۲۰۰۷ کال څخه: هر خوب به بلې پاڼې ته به ختمیږي. خلک کولای شي په دې کار کې ګډون وکړي. هغو ته بلنه ورکول کېږي چې په دې جوړښت کې یوه خاموشه خبرې اترې کې، خپل اړیکې ټینګې کړي، یا لا نور ګلونه راوړي او نورو ګلونو کې اضافه کړي. په دې ترتیب، د وخت په تیرېدو"خلکو ته" د بدلون سمبول ته بدلیږي او په عین وخت د هم امکاني بوی (رایحه) هم خپروي.

- فرانک اشتاین هوفر، ۲ مه ۲۰۲۳

PEJMAN FOUNDATION